# محمد صدیق پسرلي د غزلو موضوعاتي جاج

## Mohammad Siddique Pasarly thematic judge of ghazals

Zabihullah Zahir*

Dr.Sher Zaman Seemab**

Abstract:

In the poetry of Mr. Mohammad Siddique Pasarly, all kinds of topics of life are found, love, mysticism, moral, discipline, reformation, social life and there are many examples of non-violence in his poems. In some places, his poems rhyme. In some places, they are similar or close to the topic or thought. But this does not mean that the Pasarly's poetry has become unsatisfied, but this same volume also has a different quality. I present here as an example the thematic unity, diversity and innovation of the verses of two ghazals by Muhammad Siddique, Ustad's poetry has a high level of artistry; there are artistic Ghazal poets in Pashto literature, one of them is Ustad Pasarli, who evaluates every stanza of the poems by thinking. Poetry artistry and poetry is endowed with a special skill and ability in the arrangement and selection of words in each verse, diversity of topics and intellectual stability is another important feature.

**Key Words:** theme similarity, difference and innovation in poetry

د موضوعاتو او مضامینو له مخې د استاد پسرلي په شاعرۍ کښې د ژوند هر اړخ رنګ موندل کېږي، عشقي، اخلاقي، ترتیبوي، اصلاحي، ټولنیز او ان د عدم تشدد ګڼې بېلګې ئې په شعرونو کښې شته دے، استاد پسرلي ساده او روانه شاعري کړې ده، شاعرانه تخیل ئې ډېر لوړ دے، د تخیل عجیب جادوګر و، شاعري ئې له ښکلا ډکه، مقاومه، متداومه، کلاسیکه او ټولیزه ده، د راتلونکو نسلونو لپاره له درسونو، عبرتونو او د پېښو له تصویرونو ډکه ده، زۀ ئې دلته د

* Ph.D Scholar Pashto Academy University of Peshawar

** Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar.

دوو غزلو د بیتونو موضوعي همرنګي، بېلوالے او نوښت د بېلګي په ډول وړاندې کوم. استاد وائي

بېګاه به څومره سترې وه چې دا تله او را تله
د خیال خلوت کدې ته مې بیا بیا تله او را تله (۱)
د خیال خلوت کدې ته چې بېګاه راغلې وې
له هرې خوا پوره، له کومې خوا راغلې وې (۲)

د خیال خلوت کده معنوي ترکیب دے، چې دلته ترې مراد په خیال او تصور کښې د خپل محبوب سره مجلس دے، پسرلے په دې دواړو بیتونو کښې د خپلې محبوبې په اړه وائي چې زما د خیال او فکر خلوت کدې او د مجلس ځاے ته بیا بیا تله او راتله، ، محبوبه ئې په خیال او فکر را خوره ده، چې د مینې ښکاره کولو لپاره ئې ور سره د خلوت کدې خیالي تصویر جوړ کړے، خلوت د خپل محبوب سره مجلس ته وائي او کده ځاے ته وائي، دلته ئې د الفاظو داسې تړون کړے دے، چې د خپل محبوب سره د مینې تظاهر ترې کېږي، د دواړو غزلو د مطلعو موضوع یوه ده، د بیتونو ردیفونه د الفاظو له مخې جلا خو د معنی له مخې سره ورته دي، ځکه په دواړو بیتونو کښې د محبوب راتلل مراد دي. د مطلع وروسته بیتونو کښې د (صبها نشه) ګډه موضوع ده، په دواړو بیتونو کښې ئې خپل محبوب د صبها د نشې سره تشبیه کړے دے، چې په دواړو بیتونو کښې موضوع یوه ده، خیال یو دے خو الفاظ جلا دي او نوښت لري.

د حسن تصور مې د فکرونو مزاحم وو
که سر ته مې نشه وه د صبها تله او را تله (۳)

د ښکلي خوب او خیال غوندې بې ږغه او بې ځربه
که سر ته مې نشه وې د صبها راغلې وې (۴)

د غزلو په وروستي بیتونو کښې د سکوت د ماتولو موضوع وړاندې شوې ده، په یو ځاے کښې ئې خپله محبوبه د مستې زانې سره تشبیه کړې ده، چې خیال ته ئې په غوغا راځي او په بل بیت کښې ئې خپله محبوبه د جهیل د بطې سره تشبیه کړې ده، چې خیال او فکر ته ئې په ناز او غوغا راځي او د تنهائي سکوت ئې ماتوي.

سکوت ئې د شفق د جزیرو وو ورمات کړے
د ناز د جهیل بطه په غوغا تله او را تله (۵)

زما د تنهائي سکوت دې مات کړ ځومره ښکلے
چې مسته لکه زانې په غوغا راغلې وې (۲)

په هر صورت په ټوله کښې دواړه غزلې خوندورې دي، الفاظ ئې ښکلي، روان او ساده دي، يوه موضوع د الفاظو په تعبير په فکر او هنر ښکلې شوې ده او نوښت ئې په کښې را وستې دے، د دواړو غزلو هدف او موضوع د خپل محبوب سره د بې کچې مينې تظاهر دے، چې په خيال او فکر ئې را خور دے، کله کله انسان داسې مرحلې ته ورسېږي، چې خپل محبوب ئې له سترګو پناه وي، خو له ذهن ئې نه وي پناه او هر وخت ئې موجوديت په خيال کښې تصويروي.

دا دواړه غزلې د وخت له مخې استاد په بېلا بېلو وختونو کښې ليکلې دي، خو بيا هم تقريباً د دواړو غزلو مطلع تر يوه حده ورته والے لري او د خيال خلوتکدې ځانګړے ترکيب د دواړو غزلو په مطلع کښې را وړل شوے دے، د لومړي غزل په يوه بيت کښې وائي چې د شفق د جزيرو سکوت ئې مات کړ لکه د ناز بطه به په غوغا تله او راتله او بيا د بل غزل په يوه بيت کښې وائي چې زما د تنهائي سکوت ئې مات کړ لکه مسته زانې په غوغا راغلې وه، نو فلهذا دواړه غزلې هم د مفهوم او معنى له مخې ورته والے او هم د کلماتو د جوړښت له مخې سره ورته والے لري. په همدې ډول د دې غزلو د مطلع نه علاوه په ځينو بيتونو کښې د فکر اضتداد هم شته دے لکه په يوه بيت کښې وائي چې زما د زړۀ تر کوره د زمرۍ غوندې تنها تله او رتله، خو بيا د بل غزل په يوه بيت کښې وائي چې نه، تنها نه وه، که هر ځومره تنها راغلې وه، خو د سترګو په هر ځل ځمبولو کښې ئې يوه دنيا وه.

زما د زړۀ تر کوره د وهمونو په ځنګل کښې
د حسن زمرۍ وګوره تنها تله او راتله (۷)

هر ځمب کښې دې د سترګو وه د حسن يوه دنيا
تنها نه وې که هر ځومره تنها راغلې وې (۸)

د استاد پسرلي شعري هنريت او شعريت د هر بيت الفاظو په ترتيب او انتخاب کښې د ځانګړي رنګ او خوند نه برخمن دے، د دې تر څنګ ئې خيال پرُدازي او تصور اندازي هم لا جواب دي، د معنى او مفهوم له اړخه هم په کښې د ګوتې نيولو ځاے نه در معلومېږي، هر بيت ئې يو جلا تصوير او نقشه په ذهن جوړوي، که شعرونه ئې د معنوي اړخه وتلل شي هم د سړي د ادبي ذوق تله نه بې سکه کېږي او د لا نور تفکر او فکر اندازۍ لپاره د هځونې ذوق پيداوړی کوي، که څه هم پورته وويل شول چې ځينې بيتونه ئې فکري يا موضوعي نږديوالے لري، خو بې خونده او بې ذوقه

نه دي، فکري ورته والے یا د الفاظو ورته والے ئې هم د ادبي خونده مالا مال دے، د موضوع ورته والے یا د ردیفونو یوشان والے په شاعرۍ کښې عیب نه ګڼل کېږي، خو په دې شرط چې نوښت ولري او د استاد په شاعرۍ کښې نوښت شته دے، د غزلو موضوعي ورته والي ئې غزلې نه دي بې خونده کړي بلکې نوښت په کښې شته دے، لکه هغه وائي.

پوښتنې ته مې خپله سوې ساه تله او راتله
هغه هم لکه وېره په اکراه تله او راتله (۹)
بېګاه به څومره سترې وه چې دا تله او را تله
د خیال خلوتکدې ته مې بیا بیا تله او را تله (۱۰)

د استاد شاعري د هنریت لوړ مقام درلودونکې ده، په پښتو ادب کښې هنري غزلګو شاعران په شمار دي، چې د هغې له جملې څخه یو استاد پسرلے دے، د غزلونو هره مصره ئې په فکر کولو ارزي، د استاد پسرلي ځیني غزلې که څه هم د موضوع له مخې سره ورته والے لري، خو بیا هم په هر غزل کښې ئې تنوع موجوده ده په لوستلو ئې د سړي ذهن نه خسته کن کېږي.

پسرلے داسې یو شاعر وو، چې د ژوند ډېره برخه ئې په هجرت او جلا وطنۍ کښې تېره کړې وه، مینه ناک او انسان دوست شاعر وو، لکه څنګه ئې چې د ځینو شعرونو ردیفونه سره ورته دي، همدارنګه ئې په ځینو شعرونو کښې فکر هم سره ورته دے، دا ځکه چې پسرلے د کرکې او نفرت سړے نه وو، په ټولو شعرونو کښې ئې مینه شته او دا ئې د فکر په یو والي او ورته والي دلالت کوي، د استاد پسرلي دوه غزلې چې دواړه بېل بېل وخت کښې ویل شوي او د دواړو موضوع د خپل محبوب درشل ته ورتلل دي، په یوه قافیه او یوه ردیف ویل شوي دي، نوموړے خپل محبوب ته وائي چې ستا د ناز درشل ته لکه سیورے پټه خوله راغلم او په بل غزل کښې وائي چې ستا د ناز درشل ته لکه سیورے په سینه راغلم.

ستا د ناز درشل ته لکه سیورے پټه خوله راغلم
نور مې څوک پوښتلې نه دي، نبغ د زړۀ په پله راغلم (۱۱)

ستا د ناز درشل ته لکه سیورے په سینه راغلم
ګورم دې لیمو کښې زړۀ نما په اینه راغلم (۱۲)

د پسرلي غزلبڼ په ۲۳۸ او ۲۳۹ مخونو د غزلو په مطلع کښې یوه موضوع په یو انداز، یو وزن او یوه ردیف وړاندې شوې ده، پسرلے وائي چې د لرې مې په زړۀ تلې او راتلې بل بیت کښې بیا وائي چې بېګاه مې تر سهار په زړۀ تلې او راتلې.

له لرې مې په زړۀ وې راخوره تلې او راتلې
ساحل ته چې د خيال لکه څپه تلې او راتلې (۱۳)

بېگاه مې تر سهار چې په زړۀ تلې او راتلې
که نه وې نا کراره نو په څه تلې او راتلې (۱۴)

دے له انسان سره مينه لري او نور هم دې چارې ته رابولي له جنګ، نفرت، کرکې، تشدد، وژنې او حسد کرکه لري، د عدم تشدد فکري لاروے دے، شاعري ئې د انساني درسونو ډکه ده، په شعرونو کښې د کرکې پر ځاے مينه کړې ده، پسرلي متشدد فکر نه درلود، د انسان سره ئې مينه درلوده، د منونکي او مينه ګر شاعر په توګه په ډېرو ځايونو کښې معرفي شوے دے استاد وائي

اوس چې د دښمن خبره هم کوم
خولې ته مې د مينې ترانه راځي (۱۵)

همدارنګه د مينې او محبت موضوع په بل کښې داسې وړاندې کوي
خدايه زړۀ مې کړې د حسن د باغ زړې
چې هر ځاے ئې ږدم او مينه ترې ټوکېږي (۱۶)

چې مينه د انسان ئې زړۀ کښې نه شي ځائيدلې
له خدايه سره د عشق پوچه دعوٰی يعنې څه؟ (۱۷)
مينه کښې چې اوکړي څوک اودس په خپلو اوښکو
لمونځ ئې ادا کېږي په ولاړه لکه شمعه (۱۸)

د الفاظو ترتيب ئې په ښه شان کړے دے، مينه خورونکي الفاظ ئې سره اوبدلي دي، شعر ئې د انسان په زړۀ ښه لګېږي، عيني او ذهني تصويرونه په لوړ خيال انځوروي د خيال او تصوير تر منځ په زړۀ پورې تناسب او توازن برابروي، د مينې درس شاعرانه الفاظو کښې ورکوي.

د استاد پسرلي په کلام کښې داسې شعرونه شته چې څو شعرونه ئې په يوه موضوع راځرخي او د څو اړخو ئې يوه موضوع په خپلو کلامونو کښې ياده کړې ده، د مثال په توګه هغه په وطن د بهار راتللو په اړه څو شعرونه بهار ته ليکلي دي.

وښو سرونه هسک کړه ښائي بيا راځي بهار
چې بيا به مرور او که پخلا راځي بهار

چا وویل چې سږ هم د مینو له شامته
د وریځو په ډولۍ کښې په هوا راځي بهار
د زخم تبسم وي ترجمان د سویو څړیکو
زموږ وطن ته څکه په موسکا راځي بهار (۱۹)

له ډېره نزاکته په نخرو راځي بهار
د ناوې غوندې بڼ ته چې ورو ورو راځي بهار
هر بوټي سر له خاورو راجک کړې پورته ګوري
د وریځو غوندې ښایي چې په غرو راځي بهار
د حسن تصور به وي د وریځو په ډولۍ کښې
ماښام چې د اسمان په کنارو راځي بهار (۲۰)

بیا به په کومو پرتو دښتو وي خوب وړی بهار
که به لوړ غزونه پر اوږو وړي لکه مړی بهار
د چا د کور مخته به ناڅي لکه زڼی طاووس
د چا په ګور به ږدي ګلونه په زړۀ ستړی بهار (۲۱)

په ټوله کښې ویلے شو، چې د استاد محمد صدیق پسرلي شاعري کلاسیکه او هره دوره کښې د لوستلو او خوند اخیستلو قابل ده، کله چې سړی فکري استحکام ولري او فکر ئې د بلوغ لوړې درجې ته رسیدلے وي، نو د هغه خبرې مستحکمې او مقاومې وي، لکه د استاد پسرلي شاعري چې مستحکم او مقاومه ده، نو ځکه ویلے شو چې په ځینو شعرونو کښې د موضوعاتو ورته والے هم د همدې فکر په اساس دے

# حوالې


۱.محمد صدیق پسرلی، نی کوڅه، دانش کتاب پلورنځی، قصه خواني، پېښور، کال ۱۳۸۷ مخ ۱۴
۲.همدغه اثر ، مخ۱۷
۳.همدغه اثر ، مخ۱۴
۴.همدغه اثر ، مخ۱۷
۵.همدغه اثر ، مخ۱۴
۶.همدغه اثر ، مخ۱۷
۷.همدغه اثر ، مخ۱۴
۸.همدغه اثر ، مخ۱۷
۹.محمد صدیق پسرلي، غزلبڼ، افغان مسلکي مطبعه کابل، کال ۱۳۹۰ مخ ۱۰۲۴
۱۰.محمد صدیق پسرلی، نی کوڅه، مخ۱۴
۱۱.همدغه اثر ، مخ۲۵۰
۱۲.همدغه اثر ، مخ۲۵۱
۱۳.محمد صدیق پسرلي، غزلبڼ، مخ ۲۳۸
۱۴.همدغه اثر ، ۰ مخ ۲۳۹
۱۵.ذبیح الله، ظاهر، عدم تشدد ، ماستری تېزس ناچاپ اثر، ۱۳۹۸ مخ ۹۹
۱۶.همدغه اثر ، مخ ۱۰۰
۱۷..همدغه اثر ، مخ ۱۰۰
۱۸.محمد صدیق پسرلی، نی کوڅه، مخ۶
۱۹.محمد صدیق پسرلي، غزلبڼ، مخ ۷۲۷
۲۰.همدغه اثر ، مخ ۴۷۹
۲۱. ضمیر احمدي، غزل ستوری، ارمان خپرندویه ټولنه جلال اباد ، کال ۱۳۹۸ مخ ۱۳۹

**References;**


1. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1387 page14
2. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1387 page17
3. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1387 page14
4. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1387 page17
5. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page14
6. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page17
7. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page14
8. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page17
9. Mohammad Sadiq Pasarly,Ghazal Ban, Afghan Maslaki Matba Kabul 1390 Page 1024
10. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page14
11. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page250
12. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page251
13. Mohammad Sadiq Pasarly,Ghazal Ban, Afghan Maslaki Matba Kabul 1390 Page 238
14. Mohammad Sadiq Pasarly,Ghazal Ban, Afghan Maslaki Matba Kabul 1390 Page 239
15. Zabihullah Zahir, nonviolence master theses unpublished, 1398 page100
16. Zabihullah Zahir, nonviolence master theses unpublished, 1398 page99
17. Zabihullah Zahir, nonviolence master theses unpublished, 1398 page100
18. Mohammad Sadiq Pasarly, Nay kosa, Danish ketab ploranzi, Qasa khowni, Peshawar, 1398 page 6
19. Mohammad Sadiq Pasarly,Ghazal Ban, Afghan Maslaki Matba Kabul 1390 Page 727
20. Mohammad Sadiq Pasarly,Ghazal Ban, Afghan Maslaki Matba Kabul 1390 Page 479
21. Zamer ahmadi, Ghazal Story, Arman Khaparandovi Tolana 1398 page139